Copy-2

نبوی ارشاد

حضرت ابی سعید خدری رضی الله عنه وایی د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: دقیامت په ورځ به لوی خدای جل جلاله ته له ټولو نه زیات محبوب او هغه ته زیات نژدی عادل حکمران وی. او له ټولونه زیات مبغوض او منفور به الله تعالی ته ظالم حکمران وی.
(دغه حدیث امام ترمذی روایت کړی دی)

PROPERTY OF ACKU S 1781

شریعت

اونیزه

الهی فرمان

بیامو ددین په کار کی ته په شریعت باندی مسؤل ګرځولی یی، نو دهغه متابعت وکړه، او دهغه چا دارزوګانو متابعت مه کوه چی نه پوهیږی. بی شکه دوی له تا څخه د الله هیڅ عذاب نشی دفع کولای. یقیناً ظالمان ځینی ددوی د ځینو نورو دوستان (کارجوړونکی) دی، او الله دمتقیانو دوست (کارجورونکی) دی.
جاثیه: ۱۷ - ۱۹

لومړی کال | لومړی ګڼه | د ۱۳۷٤ ش کال | د لیندی (قوس) د میاشتی (۲۷) | د ۱۹۹۵م کال د دیسمبر (۱۸) | د ۱٤۱٦ق کال د رجب المرجب (۲۸)

له (صدای اسلام) سره (ملا محمد ربانی) په یوه ځانګړی مرکه کښی وویل:

ترڅو چی په افغانستان کښی بشپړ اسلامی نظام پلی شوی نه وی، زموږ مبارزه به دوام لری

علم اوزده کړه د ښځو حق دی خو په دی هکله به دشرعی قوانینو او اصولو بشپړ مراعات کیږی

دمستیری اوسنی طرح دطالبانو داسلامی تحریک دپاره د منلو وړ نه ده

موږ د ټولی نړی داسلامی تحریکونو ملاتړ کوو ٤مخ

په ګردیز کی (۱۰۵۰) کیلوګرامه چرس کشف او ونیول شو

د پکتیا له ولایت څخه مخابروی راپور خبر راکړ چی د روان کال د لیندی د میاشتی په ۱۵ مه نیټه د امنیی قوماندانی د افرادو له خوا (۱۰۵۰) کیلوګرامه چرس چی د تیلو په ټانکر کښی ځای پر ځای شوی و او له لوګر نه پاکستان ته لیږدول کیدل کشف او ونیول شول.
خبر زیاتوی یو تن لیږدوونکی هم نیول شوی دی.

دهرات والی ملا یار محمد یوی درنی غونډی ته په خپلو خبروکی وویل:

د افغانستان دطالبانو اسلامی تحریك د هیواد ددعلماء کرامو ترقیادت لاندی پیل شوی چی هدف یی یوازی او یوازی د ظلم او فساد له مینځه وړل او دیو سوچه اسلامی حکومت راوستل دی

د هرات له ولایت نه دشریعت اونیزی ته خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال د لیندی دمیاشتی په ۱٤ نیټه دهرات ښار په جامع جومات کښی یوه درنه غونډه چی څه نا څه لس زره کسانو په کی ګهون کړی وو جوړه شوی وه. غونډی ته په یو شمیر علماً کرامو، مسؤولینو او سپین ږیرو علاوه دهرات والی ملایارمحمد هم خبری وکړی او وی ویل: د افغانستان دطالبانو اسلامی تحریك دهیواد د عالمانو تر قیادت لاندی دافغانستان ددینی طالبانو لخوا پیل شوی چی هدف یی یوازی او
٤مخ

د(تروې) علاقه داری فعاله شوه

دپکتیکا له ولایت څخه خبر راکوی چی د (تروې) علاقه داری په خپلو اداری، اجتماعي او اولسی کارونو پیل وکړ.
خبر ځای وړاندی لیکی دغه علاقه داری چی دپاکستان بلوچستان صوبی له پولی سره نیږدی پر ته ده او د روسانو دګوواګی (نورمحمد ترکی) پلازنی وطن دی دطالبانو داسلامی تحریك په بیرغ نیکمرغه شوه ملا کریم اخند پکی دعلاقه دار ملا نواب خان دمعاون او ملا عبدالواحد اخند دامنیت د قوماندان پحیث وټاکل شول او دسیمی اوسیدونکیو خپل بشپړه همکاری ورسره اعلان کړه.

دپکتیکا په ولایت کښی هغه دارودرمل چی ټاکلی موده یی له لاسه ورکړی وه وسوزول شول

دپکتیکا له ولایت نه خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال دلیندی دمیاشتی په ۱۸ نیټه د دغه ولایت دعامی روغتیا رئیس ډاکټر عبدالحلیم او ورسره هیئت دملنګ می سیمی درملتونونه معاینه کړل چی په نتیجه کښی هغه دارودرمل چی خپل ټاکلی وخت یی له لاسه ورکړی ژ راغونډ او دخلکو په وړاندی وسوزول. خبرزیاته وی ددغو درملتونونو مالکان تر تحقیق لاندی دی.

آغاز مهم ماین پاکی در قندهار صورت گرفت

تا اکنون شش لك و پانزده هزار متر مربع زمین از ماین ها پکسازی شده است. مولوی وکیل احمد عضو شورای عالی تحریك اسلامی طالبان در یك
٤مخ

دکابل اداره باید قدرت دطالبانو اسلامی تحریك ته انتقال کړی ځکه چی طالبان داسی یو قوت دی چی په چاپوری تړلی نه دی

مولوی محمدنبی محمدی ٤مخ

دپکتیکا نامتو قوماندان محمدکریم خپله ټوله وسله په خپله خوښه طالبانوته ورکړه

دپکتیکا له ولایت څخه راته لیکی چی دروان هجری لمریز کال دلیندی دمیاشتی په ۱۵ مه نیټه دبرنې په سیمه کی دسیمی نامتو قوماندان محمدکریم خپله قرارګاه په خپله خوښه طالبانوته ورکړه چی په نوموړی قرارګاه کښی (دوه) پایی D.C توپونه، (۳) پایی زیکو یو (٦) میله دهشکی (۳۰) میله سپکه وسله ځای په ځای شوی وه.
قوماندان محمدکریم ژمنه وکړه چی له خپلو مجاهدینو سره به د (ربانی مسعود) اداری دنابودی په خاطر دمیدان ښار لومړی کرښی ته ځم تر هغه به خپل جهاد ته دوام ورکوم تر څو په ګران هیواد کښی داسلام سپین بیرغ نه وی رپیدلی.

دبګرام په هوایی ډګر کښی دروسی تخنیګرانو په موجودیت «ورځ پانی وحدت» ته خلکو شاهدی ورکړه

ورځ پانه وحدت دلیندی ۲۳ مه د وحدت ورځپانه له کابل او پنجشیر نه دراغلو خلکو په شاهدی ورکولو لیکی چی دکابل شمال ته دبګرام په هوایی ډګر کښی روسی تخنیګران د (کابل اداری) طیاری او نور عسکری وسایل ترمیمه وی.
دغه راز وړاندی لیکی چی دوه تنه روسی سلاکاران دکابل اداری په (۷۰) فرقه کښی له جنرال کبیر اندرابی سره او دوه تنه هندی سلاکاران دهوا نوردی په وزارت کښی په خپلو عسکری فعالیتونو بوخت دی.

دخوست والی محترم مولوی صاحب عبدالباقی (حقانی) په پیښور کی دطالبانو داسلامی تحریك دنمایندګی له مسؤلینو سره وکتل

د شریعت خبریال، خبر راکوی چی دلیندی په ۲٤ نیټه دخوست ولایت محترم والی صاحب عبدالباقی (حقانی) په پیښور کی دطالبانو داسلامی تحریك دنمایندګی له مسؤلینو سره غونډه وکړه. په غونډه کی دنمایندګی مسئولینو محترم حاجی صاحب محمد صادق، مولوی صاحب احمدجان، مولوی صاحب نورمحمد «ثاقب»، مولوی صاحب شهاب الدین (دلاور) او مولوی صاحب مسلم ګډون وکړ.
محترم مولوی صاحب عبدالباقی (حقانی) دخوست په ولایت کی په امنیتی چارو برسیره دښوونی او روزنی، بیا ودانولو او نورو انکشافی کارونو په هکله د شوو فعالیتونو په اړوند تفصیلات ورکړل محترم والی صاحب داهم وویل چی دولایت ټولی اداری فعاله دی او دخوست په هوائی ډګر باندی په تندی سره کار روان دی چی ډیر ژر به داستفادی وړ وګرزی.
په غونډه کی دفعالیتونو دلانیه منظم کولو او ګرندی کولو په اړوند سلا او مشوری وشوی.
***

ددولت د مشر (امام) د ټاکلو دنده
۲مخ

د اسلامی شریعت په خلاف د سیکولریزم خطر ته متوجه شی
۲مخ

طالبان څوك دي ؟
۳مخ

د حضرت عمرو بن الجموح (رض) په ژوندلنډی خبرای
په بله ګڼه کی

تحریك اسلامی طالبان
۳مخ

د ربانی اداره د روسانو په غیږ کی
٤مخ

دطالبانو داسلامی تحریك د تایید په لړ کښی یوه درنه غونډه جوړه شوه
٤مخ

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

شریعت

هر تحریك او انقلاب له ځان سره زیری او پیغام لری، مفکوره او عقیده لری، اخلاق او کلتور لری، سیاست او اداره لری، چی دهغه په واسطه د خلکو په انفرادی او اجتماعی، سیاسی او اقتصادی ژوند کی بدلون او تحول راولی. د طالبانو اسلامی تحریك هم چی دنړی یو انقلابی او عقیده وی تحریك دی، له ځان سره دخپل مجاهد ملت او ټولو نړی والو دپاره د اسلامی شریعت هغه ژوندی او ابدی د آزادی او خوشحالی، سعادت او نیکمرغی، زیری او پیغام لری، چی لوی خدای (جل جلاله) دین دنجات او ژغورنی دپاره لومړی ټولو انبیاؤ ته او په پای کی یی خپل وروستنی پیغمبر حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ته وحی کړی چی فرمایی: «او بیامو ددین په کارکی ته په شریعت باندی قائم ګرزولی یی، نو ته په همدغه لاره باندی روان اوسه او د هغه چا دآرزو ګانو پیروی مه کوه چی نه پوهیږی.»
طالبان چه خپل ټول ژوندیی د الله ددین دزده کړی دپاره وقف کړی او بیایی د دینی عالمانو په توګه د اسلامی ټولنی اسلامی عقیدی، اسلامی عبادت، اسلامی اخلاقو، اسلامی سیاست، اسلامی اقتصاد او اسلامی کلتور د لاربښوونی او په عمل کی د تطبیق کولو دنده په غاړه اخستی ده، له ځان سره د اسلامی شریعت زیری او پیغام لری. مشهور متل دی چی وایی «له کاسی نه هغه څه توئیږی چی په کاسه کی وی.» د طالبانو اسلامی تحریك چی له دینی مدرسو څخه پیل شوی او خپل ژوند یی دعلم او تقوی او خوف من الله په اسلامی
٤مخ

آنانیکه به تفرقه ها و تبعیض های لسانی، قومی، نژادی و سمتی میان هموطنان مسلمان ما دامن میزنند، با اسلام، مسلمین و منافع علیای کشور خیانت می کنند

داسلامی شریعت په خلاف د سیکولریزم خطر ته متوجه شی

عبدالحکیم مجاهد

دسیکولریزم «Secularism» اصطلاح چی په عربی ژبه کی ورته «العلمانیة» وایی، کیدایشی ډیر شمیر لوستونکیو دپاره نوی او نامأنوسه کلمه وی، او خطر ته یی څوك دومره نوی متوجه، خو ددغی اصطلاح خطر دومره زیات دي لکه څنګه په دافغانستان کی دکمونیستی رژیم دراتك نه مخکی دسوسیالزم او کمونیزم داصطلاحاتو دنه پیژندلو نامرئی خطرونه چی څمونږه ګران افغانستان یی په نتیجه کی دمادي او معنوی بیړی بربادی سره مخامخ کړ. نو زه غواړو دغه اصطلاح دهغی دتعریفونو او تاریخی پس منظر «Background» په بیانولو سره، لوستونکو ته وروپیژنو، څو دهغه له خطر څخه خبر او دمخنیوی دپاره یی مناسب اقدامات وکړی:

الف: دسیکولریزم یو تعریف دادی چی: فصل الدین عن السیاسة واقامة الحیاة علی اساس مادی. (دین له سیاست څخه بیلول او ژوند په مادی بنسټونو باندی عیارول دی).

ب: سیکولرزم هغه ټولنیز حرکت دی چی خلك له اخرت څخه منکر وی او یواځی ددنیا په ژوند باندی یی عقیده جوړوی.) دغه تعریف د برِیطانیه دائرة المعارف کړی دی.

ج: دچیمبرز چی دانګلیسی ژبی مشهوره او مستنده دیکشنری ده (سیکولریزم تعریف داسی کوی.«-Secularim is the be-leif that the state morals, education, etc. should be inde endent of religion.»

(سیکولریزم هغه عقیده ده چی غواړی دولتي اخلاقی اصول ښونه اوروزنه او داسی نور باید له دین څخه آزاد او خپلواکه وی.) له پورتنیو دری واړه تعریفونو څخه دغه خبره ښه راڅرګنده شوه چی سیکولریزم دین یا اسلامي شریعت ته حق نه ورکوی چی دولتی قوانین یا عدالتی قضائی دی دشریعت په بنسټ باندی وی او یادی حکومت او سیاست ددین په چوکاټ کی سره ګډ وی. بلکی سیکولریزم ددین او سیاست په مینځ کی دمطلق بیلتون او جلاوالی په اصولو باندی اصرار کوی.

سیکولر یا لادین الحادی نظام، اصلاً دعیسایی او یهودي تحریف شوی دین په خلاف دلویدیزی نړی یو بغاوت او سرغړونه وه چي ددینی انزوا، رهبانیت او پاپانو، کشیشیانو ددین پلوونی، سایښس او ترقي ضد بی حایه تکفیرونکی مواقفو او نیوکو په خلاف په ۱۷۸۹ میلادی کال، په فرانسه کی منځ ته راغی، دغه دنړی لومړی لادین الحادی حکومت وؤ چی دملت او خلکو په نوم یی په خلکو باندی واکداری وکړه، چي وروسته یی ورو ورو په ټوله نړی کی په مختلفو نومونو او شکلونو لکه: غربی جمهوریت یادیموکراسی «Democracy» ملت پالنه یا نشنلیزم «Nationalism» اشتراکیت یا سوشیلیزم «Socialism» اشتمالیت یا کمونیزم «Cammunism» او نورو داسي ایزمونو باندی سرایت او تبارز وکړ.

په اسلامی نړی کی سیکولریزم په اسلامي هیوادونو باندی دانګریزی، فرانسوی، اټالوی او روسي استعمار په واسطه خپور شو، البته په دی کی عیسایی مبلغینو، او یهودی سود خورو سرمایه دارانو ډیر مهم رول اداکړی دی. په اسلامي هیوادونو کی دسیکولر نظامونو هدف داوؤ چی داسلامی شریعت یا داسلام دحکومت کولو هغه مفکوره او عقیده له منځه یوسی چی مسلمانان په یو، مرکزی خلافت (اسلامی حکومت) باندی سره راغونډ وی. څو وکولای شی اسلامی نړی په وړو وړو متعددو بی سیکه ادبی ارادی ټولنو او هیوادونو باندی وویشی. او دسیاسی قدرت واګی دخپلو ګوډاګیانو په لاس کی ورکړی، چی له یوی خوا هلته دخپلی خوښی غیر اسلامی الحادی نظامونه جوړ کړی او له بلی خوا دهغو هیوادونو طبعی منابع او معدنی وسایل ددوی ترسلطه اوکنترول لاندی راشی.

تر اوسه پوری استعمار نه یواځی په دغه بدمرغه هدف کی اسلامی نړی په ډیرو هیوادونو کی کامیاب او بریالی شوی دی.

بلکه هلته ددی قدرت او توانایی هم لری چی په هغو هیوادونو کی دراولاړیدونکیو اسلامی تحریکونو مخنیوی وکړی، او که احیاناً کله دکوم اسلامی تحریك یا انقلاب دبریالیتوب امکانات پیدا کیږی، دوی وکولایشی هغوی دخپلو الحادی سیکولر غناصرو په کتړه تمام کړی او مسلمانان دخپل انقلاب له ثمری څخه محروم کاندی.

داستعماری ځواکونو یوه مشهوره، اصطلاح ده چی وایی: «Divide and rule» تفرقه واچوه او حکومت وکړه، دوی لومړی په مسلمانانو کی داختلاف او تفرقی او رونه بل کړی، څو په دی باندی له یوی خوا اسلامي خوځښتونه کمزوری کړی او له بلی خوایی دعامو خلکو په وړاندی ښه بدنام کړی. او بیا دخپلو مطلوبو سیکولر عناصرو دپاره زمینه مساعده کړی، چی په اقتصادی، سیاسی، او نظامی ډګرونو کی یی مرسته وکړی. داستعمار ټولی مجلی او ورځپاڼی، ټولی رادیوګانی او تلیویژنونه ددوی په ستاینه باندی بوختوی.

او دخپلو زوررورو تبلیغاتو په توسط نړیوالوته داسی وروښیی چی همدغه دهیواد اتلان، دسولی مینان، او په بین المللی دپلوماتیکو اخلاقو اوپروتوکولونو باندی پوه مترقی روښان فکران دی، که دوی نه وی نو دهیواد سیاسي شخړی او ربړونه نه شی حل کیدای.

په دی توګه ورو ورو اسلامی خوځښتونه کمزوری کړی او دهیواد په سیاسی چارو باندی دسیکولر یا الحادی عناصرو سلطه قائمه شی، داسلامي شریعت یا اسلامي انقلاب ارمانونه په خیالی خوبونو بدل شی، او بیا دکمزوری اوتشتط په حال کی داسلامی شریعت دنفاذ دپاره په اصطلاح سوله ایز تحریکونه چلوی، دغربی دیموکراسی په عامو انتخاباتو کی ګډون کوی، په کانګریس او پارلمانی جرګو کی بیلونه او غوښتنی وړاندی کوی، خو سیکولر واکداران وریاندی ملنډی او مسخری وهی، او نتیجه یی صفر وی. دا څکه چی هغوی اسلام او اسلامی شریعت د حکومت او سیاست له ډګر څخه ایستلی دی او د یوه سیکولر لادین حکومت او ټولنی په جوړیدلو کی بریالی شوی دی.

دا ډول مثالونه په اسلامی نړی کی په پراخه توګه موجود دی، لکه ترکیه، مراکش، الجزایر، مصر، اندونیزیا، افغانستان او داسی نور.

په دغو هیوادونو کی داستعمار په خلاف جهاد او مبارزی علماوو او مسلمانانو کړی دی، خو دجهاد او مبارزی ثمره سیکور لادین کوندونو او اشخاصو ته په لاس ورغلی ده، علمایی وروسته کړی دی او دهیواد په سیاسی قدرت دلویدیز کوډاکیانو منګولی ښخی کړی دی.

په افغانستان کی د انګریزی امپریالیزم په مقابل کی د جهاد رهبری او لارښونه دینی عالمانو کوله، خو په نتیجه کی په سیاسی قدرت باندی سیکولرمشربو عناصرو منګولی ولګولی چی ورسته یی په هیواد کي د نظامونو یا فرمانونو په صادرولو سره دسو سیاست اقتصاد او لادین سیکولر سیاسی سیستم دپاره په درڼ باندی کار پیل کړ خو دافغانستان یا ایمانه علماء، او دهیواد په اسلامم مین خلك ژر د هغه په مخالفت کی راپورته شول داستعمار دغه دسیسی بی سمدستی خنثی کړی، خو له بده مرغه سیاسی قدرت بیا هم ددینی عالمانو لاس کی نه و چی په نتیجه کی هیواد د سیکولر او ملحدو عناصر په لاس. دیوه بل استعماری ځواك روسی امپریالیزم تر وحشی او خونخوارو چمبو لاندی راغی هیواد دبشپړیی تباهی سره مخامخ شو، یونیم میلیون شهیدانو د شهادت جامونه وڅښل (الله دی ددوی روحونه ښاد کړی) له ۵ میلیون څخه زیات خلك دهجرت په لمبوکی وسوځیدل، او دغه ټولی قربانی ددی دپاره وی چی په هیواد کی به دلادین الحادی نظام په ځای دعلماوو او مخلصو مسلمانانو په لاس یو واقعی اسلامی دولت جوړیږی چی دهغه داخلی او خارجی سیاست به داسلامی شریعت په اصولو باندی ولاړ وی.

خو له بده مرغه په افغانستان کی دکمونیزم او روسی سرولښکرو د سختی ماتی او شکست سره سره د افغانستان مسلمانان په دی باندی بریالی نه شول، چی په هیواد کی یو داسی واقعی اسلامی دولت جوړ کړی چی ټولی سیاسی، اقتصادی، کلتوری، تعلیمی او اداری چاری یی په اسلامی شریعت باندی ولاړی وی.

یو شمیر ډلو کوشش وکړ چی د خپلو شخصی، ګوندی، او قبیلوی، مفاداتو د ترلاسه کولو په خاطر د یونیم میلیون پاکو شهیدانو دوینو خرڅولو په بیه دنړی وال کفر او استعمار خوښی او خوشنودی ترلاسه کړی، او دمقدس اسلامی جهاد ارمانونو ته بی اعتنایی وکړی. د کفری استعمار څرګندو دسیسو ته چی د اسلام او اسلامی جهاد په خلاف یی پیل کړی دی غاړه کیږدی او د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت ته په څو تش په نوم اسلامی اصطلاحاتو، اسلامی بیانونو او اسلامی غولو نکیوخپرو باندی قریب او دوکه ورکړي.

د افغانستان ټول اسلامی کوندونه، با درده او با درکه مسلمانان، قومونه او پرکنی خصوصاً دینی عالمان باید په ډیره ځیر کی او مؤمنانه فراست سره داستعمار سیکولریستی خطر ته متوجه شی، او پری نږدی چی په هیواد کی دخپل منځی اختلافونو او شخصی منطقوی او موقتی ګټو په ساتلو او تعقیبولو د مقدس جهاد ستر هدف چی بشپړ اسلامی نظام جوړول دي، له لاسه ورکړی، او په پای کی یو ځلی بیا دهیواد سیاسی قدرت د سیکولر او الحادی عناصرو لاس ته ورشی، چی بیا به مو خدای نکړی دشهیدانو د پاکو وینو سره خیانت کړی وی او لوی خدای (جل جلاله) به را څخه ناراضه شوی وی، او موثر ټولو مسلمانانو ته به دهمدغو ملحدانو په لاسونو په دنیا کی دذلت او رسوایی سزا راکوی، او په اخرت کی به مو جهنم ځای وی چی ډیر بد ځای دی.

دغه حقیقت لوی خدای (جل جلاله) په قرآن کریم کی بیان کړي دي. «ای مؤمنانو ځما دښمن او خپل دښمن په دوستی باندی مه نیسی، چی له دوی سره په مینه او محبت سره یوځای کیږی. حال داچی هغوی په هغه حق (قرآن) باندی چی تاسو ته راغلی دی کافران دی انکار کوی، د (الله) پیغمبر صلی الله علیه وسلم، او تاسی یواځی په دی باندی له (هیواد او کورونو) څخه شړی چی په خپل رب مو ایمان راوړی دی (که تاسی ځما په لاره کی جهاد کولو او ځما د رضا د ترلاسه کولو د پاره وتلی یاست، (نو دا کار مه کوی). تاسو په پټه دوی ته د مودت او دوستی پیغام نه لیږی. په داسی حال کی چی زه په ټولو هغو شیانو باندی پوهیږم چی تاسو یی په پټه باندي کوی او یا په ښکاره، او که له تاسو څخه څوك داسی کار کوی، نو په یقین سره هغه سمه لاره ورکه کړی ده. که دوی په تاسی باندی مسلط شی، نو دوی به د تاسی دښمنان وی او تاسی ته به د آزار او ځوروني ژبی او لاسونه وغزوی. او دوی له دی سره سخته مینه لری چی تاسی کافر شی» (ممتحنه: ۱-۲)

د اسلامی شریعت د تحکیم او تنفیذولو د طالبانو اسلامی تحریك چی د همدغه مقدس هدف د ترلاسه کولو د پاره یی بیرغ پورته کړی دی. الحمدلله تر اوسه پوری په هغو سیمو او ولایتونو کی چی ددوی تر اداره او کنترول لاندی دی اسلامی شریعت د تطبیق هلی ځلی نوری هم زیاتی کړی دی.

بی پلی کړی دی، او هلته یی د خلکو د سر، مال او ناموس ساتنه کړی ده. په هغو سیمو کی یی د نر او ښځی ګډ اداری او تعلیمی سیستم له منځه وړی دی. ښځو ته یی د اسلامی او افغانی عفت لوړ مقام ور په برخه کړی دی. د نړی والو اسلام ضد فشارونو په مقابل کی یی له اسلامی مقاومت څخه کار اخیستی دی د هغوی غیر شرعی غوښتنو ته یی غاړه نه ده ایښی. د بین المللی مؤسساتو لکه یونیسیف «UNICEF» هغه تهدیدونه چی که د نر او ښځو مخلوط اداری او تعلیمی سیستم بیا فعال نشی نو دوی به په تعلیمی ادارو باندی خپلی مرستی بندی کړی، په مقابل کی یی څرګند او ښکاره اسلامی دریز خپل کړی دی، او ددغو تهدیدونو په وړاندی یی د خپل ټینګ او مضبوط ایمان په لرلو د اسلامی شریعت د

د افغانستان ټولو مخلصو مسلمانانو ته په کار دی چی د نړیوال استعمار دسیسو ته متوجه شی، او د اسلامی جهاد د ستر هدف د ترلاسه کولو د پاره، له ټولو شخصی او ګوندی ګټو څخه تیر، او په خپلو منځونو کی د ورونو په شانی د اسلام او افغانستان ددښمنانو بدمرغه پلانونه شنډ کړی، د سیکولر او الحادی عناصرو په ځای د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك او مخلصو مسلمانانو په لیکو کی د واقعی اسلامی افغانستان د جوړولو د پاره خپلی هلی ځلی په کار واچوی، څو مو په خپلواکه، با وقاره او باعفته افغانستان کی د خوشحالی او نیکمرغی ژوندون په برخه شی او د ملحدینو د شر او فساد څخه په امن شو.

ددولت د مشر (امام) د ټاکلو دنده

غازي خیل

په اسلامی نظام کښی ددولت د مشر ټاکل پر مسلمانانو شرعاً واجب دی، دا ددی لپاره چی: که په اسلامی ټولنه کی ددولت مشر نه وی نو څوك به شرعی احکام نافذ کړی؟ هغه احکام چی د الله تعالی د بندګانو د بندګی ټوك او د مسئولیت وړ دنده ده، څوك به قصاص او شرعی حدود جاری کړی؟ هغه قصاص او حدود چی د خلکو د سر، مال او ناموس د ساتنی یوازینی او په زړه پوری وسیله ده.

څوك به د اسلام سرحدونه د دښمنانو له تیری څخه ساتی؟

څوك به د جهاد د فریضی لپاره دمجاهدینو لښکری اکمال او توجیه کړی؟

څوك به د بیت المال لپاره عشر، زکواة، فیء، د اوقافو حاصلات او نور صدقات را غونډ کړی؟

چی هغه بیا په ټاکل شوو شرعی مواردو کښی مصرف کړی قاضیان مفتیان، علماء، خطیبان، مبلغین، مدرسین، حافظان یتیمان، کونډی او نور مستحقین وریاندی وپالی، لاری، جوماتونه، پولونه، روغتونونه، مسافرخانی او نور عام المنفعة ځایونه وریاندی آباد کړي.

څوك به ظالمان، غاصبان، غله، لاری وهونکی، قمار بازان، شرابیان او نور شریر کسان مات او مغلوب کړی؟ چی رعیت یی له شر او فساد نه وژغوری.

څوك به د جمعی، اخترونو او نور لمونځونه په خلکو باندی کوي؟

څوك به امر بالمعروف او نهی عن المنکر چلوی؟

څوك به د رعیت د افرادو تر منځ نزاع، دعوی او دنګلی غوڅوی؟

څوك به د ګواهانو ګواهی قبلوی؟ هغه ګواهی چی د حقدار د حق ثابتولو لپاره یی ادا کوی.

څوك به د حقدار حق له ظالمانو، زوروږو او غاصبانو څخه ورته اخلی؟

څوك به هغه واړه هلکان او نجونی چی خپلوان نه لری پالی او غمخواری به یی کوی او که لازمه وه نو په نکاح به یی ورکوی؟

څوك به د مجاهدینو تر منځ غنیمتونه ویشی او د بیت المال خمس (پنځمه) به ورڅخه اخلی؟

څوك به د اسلام د کلمی د لوړوالی لپاره ددولت په سطح کار کوی؟

څوك به د مسلمانانو کومك، لارښوونه او هغوی به د نیکیو په لوری توجیه کوی؟

دا خو ددولت د مشر ځینی وجایب او مسئولیتونه دی چی هغه نه وی نو دا به څوك کوی؟ ځکه د امت افراد که هر څومره خیر خواه او زړه سواندی وی دغه مسئولیتونه نه شی تر سره کولی له وس نه یی بهر دی.

داچی ددولت مشر به مسلمان، نارینه، عادل (اصیل، بالغ، عاقل، پرهیزګار او د مروت خاوند) مهربان او د رعیت د اعتماد او بروسی وړ شخصیت وی، ددی لپاره ده چی: له یوی خوا نه رعیت خلك دده تر سیوری لاندی د ډاډ، هوساینی، سر، مال او ناموس خوندی ساتنی احساس وکړی او له بلی خوا نه د اسلام کلمه لوړه کړای شی او یا یی د لوړولو کوشش وکړی.

دا کوښښ او زیار به ځکه وکړی چی د عدالت په معنی کښی هغه تقوی اخستل شوی ده چی خوی او عادت یی تقوی وی له لویو ګناهونو نه بیخی پاك او توبه ګار وی، واړه ګناهونه ډیر کم ورنه پیښ شوی وی، بل د عدالت په معنی کښی مروت اخستل شوی دی د مروت اصولی معنی داده چی ل هغو مباحاتو نه هم لری و اوسی چی دده له حیثیت او مقام سره وړ او مناسب نه وی لکه لوبی، توقی، په لاره کښی خوراك او داسی نور، نو متقیان هرومرو د الله تعالی د کلمی د لوړوالی زیار باسی.

د عدالت لغوی معنی (مساوات او برابری) هم په پام کی نیول شوی ده یعنی ددولت مشر به د رعیت د افرادو تر منځ په حقوقی لحاظ سره د شرعی مساوات او برابری رعایت کوی.

ددغسی صفاتو لرونکی سلطان او ددولت مشر په مخلوق باندی دالله تعالی فضل، د رحمت سیوری او لوی نعمت دی؛ ځنګه چی دده ګټی او ښیګنی رعیت ته را ګرزی (راجع دی) نو په رعیت باندی هم ددغه نعمت شکرانه واجب او په شرعی کارونو کښی دده اطاعت، کومك او ملاتړ وریاندی لازم دی.

له دی امله ده چی امام د رعیت په بیعت سره امام کیدای شی (هلته چی بیعت د برچی یا پیښو یا واسطو په زور نه وی- او هم د رعیت په عزل معزول کیدای شی- هلته چی ددولت مشر هغه شرعی صفات و نه لری چی دده لپاره اسلامی شریعت ټاکلی دی په هغه وخت کښی بیا پر رعیت لازمه ده چی وریاندی راپورته شی معزول یی کړی او بل اهل او لایق شخصیت یی پر ځای وټاکی.

ددولت د مشر او امام د ډیر اهمیت له کبله ده چی د حدیث مبارك په روایت کښی داسی مضمون راغلی دی: «څوك چی مړ شی او د امام بیعت یی په غاړه کښی نه وی نو مرګ یی د جاهلیت دی». جاهلیت هغه زمانه وه چی حضرت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لا پیغمبر شوی نه ؤ.

له همدی امله ؤ چی کله رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دنیا نه سفر وکړ نو اصحابو کرامو (رضی الله تعالی عنهم) دده دفن نه تر هغو پوری اقدام نه کاوو تر څو یی چه له

نور بیا

ملا اسدالله حنیفی

گرانه طالبه

گرانه طالبه د افغان د شهامت نښه شوی
د ټول ملت د سرلوړی د اصالت نښه شوی
تا د میرویس نیکه شمله نوره هم لوړه کړه له
د احمدشاه او غزنوی د وراثت نښه شوی
گرمی گولی دی په تېر کښې شوی په وینو سړی
د ستر حمزه د ربښتون والی صداقت نښه شوی
هره گړی په دښمن غورځی د زمری په رنگی
د لوی خالد د باتوری او متانت نښه شوی
دا ستا ایثار او قربانی ته هر سړی حیرت شو
ته د بلال د سرښندنی ریاضت نښه شوی
وینه دی ورکړه په خندا خندا په مینه مینه
گرده نړی کښې را ځرگند د قیادت نښه شوی
دا ستا خوځښت او بیا ایثار خلك را و خوځول
هر یو بیوزله ته د متو د طاقت نښه شوی
تا خو بولی پرگنی له خوبه ویښی کړلی
د اولسونو پرگنو د هدایت نښه شوی
ستا قربانی خو (حنیفی) قلم ته ځواك وبانبه
هر با احساسه ته د ژوند او شرافت نښه شوی

پیښور

خوشحال خان ختك

نصیحت

عمر هر زمان رفتن کالکه باد
مرگ دی هر سړی همیش لری په یاد
چی د عمر بی بنیاد په هوا ایښی
په دا هسی ژوندون څه دی اعتماد
دادم خاوري د غم په اوبو نم دی
خمیره په قدرت کړی رب با مداد
انبیاء او اولیاء لاړل وگورته
ته به وایی چی ددوی نه وبنیاد
د دنیا ژوندون هیڅ نه دی که یی گوری
چی هیچا څنی بیانه مونده مراد
همیشه ژوندون که غواړی درته وایم
همیشه کوه له نفس سره جهاد
مسافر چی بی سفروی خودر وړاندی
په مقدار د هغی لاری اخله زاد
راشه زړه له غیرو پری کړه ای خوشحاله
په امید بی د دیدار لره زړه ښاد

د ادب ملغلري

(سعدی)

شنیدم که فرماندهی دادگر | قبا داشتی هر دو روی آستر
یکی گفتش ای خسرو نیکروز | زدیبای چینی قبائی بدوز
بگفت اینقدر سترو آسایشست | وزین بگذری زیب و آرایشست
نه از بهر آن میستانم خراج | که زینت کنم بر خود و تخت و تاج
چو همچون زنان حله درتن کنم | بمردی کجا دفع دشمن کنم
مراهم زصد گونه آزو هواست | و لیکن خزینه نه تنها مراست
خزائن پر از بهر لشکر بود | نه از بهر آذین و زیور بود

که نظر کاځوك په کار د درویشانو
په دغه لاره به ورشی خدای رسول ته
بادشاهان د دنیا واړه پری پرانه دی
په هر څ چی دغضب لندی که کښه
درست دیوان د رحمان زارتر داغزل شه

خود به وویني وقار د درویشانو
که څوك یون کاندی په لار د درویشانو
لکه خاوری په دربار د درویشانو
خطائه درومی گوزار د درویشانو
چی بیان بی کړ کردار د درویشانو

«ملا ذر محمد گوهری»

[illegible]

نه ظالم یم نه دظلم هوا داریم
نه بدبین دهیڅ سړی یم نه بدکاریم
مظلومان می دزړه سر دسترگوتوردی
له بیوسوله بیکسو سره یار یم
یم دښمن دکبر جنو بُت پرستو
د بیوزلو دخوارانو خدمتگار یم
حق به وایم که می سرځی په دی لار کښی
دمنصور غوندی حق گوی په سر دداریم
د دښمن هیڅ یو گزار به می خم نه کړی
د سندان غوندی محکم او استوار یم
په نرمی می خطامه شه غلیم گیه!
لطافت کښی سوزوونکی لکه ناریم
که هر څو می طبیعت له گل نازك دی
دغلیم لپاره کلك دکیکرخار یم
د اسلام دقوانینو حفاظت کړم
دغیرت له وینو ډك لکه اناریم
که هر څو یم له مادی وسلی بی برخی
دایمان په وسله ښه پوره سنگار یم
دښمنان را ته مغلوب دی په هر ځای کښی
گوهری له خدایه ډیر شکر گذار یم

گلزار وطن «مبشر»

خواستم روزی روم سوی گلستان لحظه یی
تاشوم فارغ ز درد و رنج هجران لحظه یی
تا نشیتم در کنار نهرك آب روان
تا نمایم شرح احوال پریشان لحظه یی
تا نمایم در چمن نظاره، گلهای سرخ
تا شوم من همنوای عندلیبان لحظه یی
تا نمایم استماعِ نغمه، نغز هوا
بشنوم از هر طرف آواز مرغان لحظه یی
تا بگویم بلبلان را شرح احوال دلم
غم شریك خود کنم مرغ غزلخوان لحظه یی
با هزاران آرزو رفتم به گلزار وطن
تا پس از یك دهه بینم ملك شیران لحظه یی
چون رسیدم من به شهر کابل گلشن نظیر
هر طرف کردم نگاه با چشم گریان لحظه یی
ناگهان دیدم چو من ان منظرِ جانکاه شهر
ماندم در جای خود مبهوت و حیران لحظه یی
خانه ها ویران و مردم در عزای اقربان
نی کسی را خنده بر لب ها نمایان لحظه یی
من نمیدانم چرا این فتنه انگیزان دهر
نیستند در فکر بهبود مسلمان لحظه یی
حاکمانِ جاه طلب این دشمنانِ عدل و صلح
چون؟ نمیدارند سرِ خود در گریبان لحظه یی
تا برای رفع مشکل قطع این کشتار و خون
روی آرند بر نصوص پاكِ قرآن لحظه یی
میکنم هر دم دعا کای ذاتِ پاك کبریا
تو مکن مارا رها از لطف و احسان لحظه یی

تحریك اسلامی طالبان

عبدالرحمن احمد هوتکی

تحریك اسلامی طالبان و پیش رفتهای سریع و دراماتیك آنها که ظرف یك سال بر دو ثلث از کل رقبهٔ کشور حاکمیت موثر و نافذ قائم کرد، از حرکتها و انقلابهای بزرگ جهان معاصر محسوب شده. برای ملت عزیز خویش امت اسلامی و همه جهانیان پیام و از مغان شریعت اسلامی را باخود دارد، زیرا هر جنبش و انقلاب دارای ضوابط و روابط میباشد که در زنده گی های فردی و اجتماعی، سیاسی و اقتصادی، کلتوری و فرهنگی مردم توسط [illegible] مصدر تحول و [illegible]یگر گونی میش[illegible] ضوابط و روابط که تحریك اسلامی طالبان از آن شکل و رنگ گرفته شریعت اسلامی آن وثیقه و قانون جاویدانی الهی است که سعادت و نیك بختی بشر در آن نهفته بوده میباشد.

این تحریك اسلامی [illegible] باری ملت رنکشیده در [illegible] که تمام شرایط ذهنی و عینی در جامعه ایجاب یك تحول و دیگر گونی را میمنود، زیرا تمام افتخارات تاریخی، ارزشهای دینی و ملی، هست و بود فرهنگی و کلتوری، اقتصادی و نظامی به تحدید و نابودی مواجه بود سیستم اداری و نظام اجتماعی کشور به اثر عدم کفایت مسؤلین و غلبه قدرتهای محلی و تنظیمی، قومی، سمتی و لسانی به رکود و سقوط روبرو بود، در هر گوشه و کنار کشور افراد و نظامهای محلی جابرانه و فاقد هر نوع اصولیت و قانونیت بزور برچه بر مردم حکومت و سلطه میراند، نفس، عرض، مال و ناموس مردم مصئونیت و ارزش قانونی نداشت، رذایل اخلاقی به اوج خود رسیده بود قمار و تدویر مجالس فحشاء یك سرگرمی تفریحی عادی پنداشته میشد.

سرحدات کشور برای خارجیان از هیچ نوع اعتبار بر خوردار نبود هر قدرت محلی و شخص مطرح با هر طرف خارجی که میخواست بدون هیچ نوع ملحوظ منافع ملی کشور ارتباط تأمین مینمود.

استقلال و تمامیت ارضی کشور در معرض سؤال قرار گرفته بود، صدای تجزیه، کشور از دهان بسیاری از داخلی ها و خارجی ها به گوش میرسید.

و تمام فعالیتها و تلاشها بسطح ملی و بین المللی غرض دیگر گونی اوضاع آوردن صلح، امنیت و استقرار یك نظام مرکزی مقتدر قانونی به یأس و نا امیدی مواجه گردیده بود.

در این دردناکترین مقطع از تاریخ کشور مردم مظلوم و بیچاره، ما به امید ناجی بودند که او شانرا یاری کرده از این مصیبت و ناامیدی جانگاه به نصرت الهی نجات شان بدهد، دست غیب این تحریك بزرگ اسلامی را به حیث یك موهبت الهی (ج) به کمك و نصرت مستضعفان جامعه ما گماشت. اما این بار قرعه، فال بنام طالب زده شد طالب: این شاگرد مدرسه و مسجد که در محیط علم ر[illegible] موی و به روحیه، خوف من الله تربیه دیده و به حیث عالم دینی مبلغ شریعت، امر کننده به معروف و نهی کننده از منکر به جامعه تقدیم به تبلیغ و تعلیم تربیه و اخلاق اسلامی، ثقافت و فرهنگ اسلامی اقتصاد و سیاست دینی در عرصه های فردی و اجتماعی مصدر خدمت میشوند. افراد ملت مسلمان افغان اعم از زن و مرد با نام نامی طالب، ملا و مولوی آشنائی نزدیك و تاریخی دارند که اینها اصطلاحات علمی و روحانی است که در جامعه، ما به رهبران مذهبی، علمی و روحانی نسبت میشود که اوشان دو ممبر مبلغ شریعت در مسجد و مدرسه معلم شریعت و در معرکه، جنگ سپاهی سر بکف و در میدان سیاست و اداره کارکن مخلص و متعهد به منافع ملی و مردمی میباشند، که از آنها بجز از اقامه شریعت و تنفیذ آن وخدمت مخلصانه عباد خدا (ج) توقع دیگر نرفته و نمیرود.

هستند کسانیکه تحت تأثیر تبلیغات حلقه های فاسق و فاجر داخلی و خارجی که منافع شوم و ناجائز خود را از دست داده اند و بعد از این دورنما، خویش را در کشور افغانیان تاریك میبینند رفته باشند و به این تحریك مقدس به چشم شك و تردید بنگرند از اوشان احترامانه دعوت مینمائیم که بیاید سر به مناطق وسیع تحت سلطه، طالبان بزنید و به چشم سر اوضاع را از نزدیك دیده حالات فعلی را با وضع گذشته مقایسه فرماید البته دیدنیها، کشف حقائق و واقعیتهای عینی شما را به دریافت حقیقت و وضاحت صدق و کذب ادعا های فاسقان داخلی و خارجی نهفته در کمین کمك خواهد کرد شنیده خواهید بود که میگویند: (شنیدن کی بود مانند دیدن) اگر شنیده گیها را به جایش گذاشته بطرف دیدنیها برویم بلی بطرف دیدن طالبان، دیدن پیش امامان خانه های خدا (ج) (مساجد) دیدن میراث داران انبیاء علیهم الصلوة و السلم به وضوح مشاهده خواهیم کرد که تحریك اسلامی طالبان، بافقدان وسایل مادی بقدر وسع و توان بشری، در تأمین امنیت و استقرار نظم و قانونیت، و در وصل و استحکام حلقه های از هم گسیسته، نظام اجتماعی و واحد های اداری کشور و در مجموع به تحکیم و تنفیذ عملی شریعت غراء محمدی علیه الصلوة و السلام بنصرت الهی(ج) و به تعاون بیدریغ احاد ملت مسلمان افغان توفیق مذید حاصل کرده و یگانه آرمان جهاد مقدس که بیشتر از یکنیم ملیون شهید و لك ها معیوب ، یتیم و بیوه و برداشت دها مشاکل جانکاه از طرف ملت عزیز مان در این راه (قیام نظام اسلامی و تنفیذ شریعت) جامه عمل بپوشانیدند الحمدلله زهی سعادت و نیك بختی، و فعلاً هم اوشان برای بر آورده شدن همه جانبه این هدف مقدس و تحکیم و تنفیذ آن در سرتاسر کشور و جهان در سنگر های داغ داخل پیکار و جهاد مقابل مفسدین و هواء پرستان میباشند، خداوند یار و یاور شان باد. اما باید دانسته شد که قیام و قوام نظام اسلامی و تنفیذ شریعت تنها وجیبه، طالب، ملا، مولوی و یك قشر به خصوص نبوده بلکه وجیبه، همیشگی هر مسلمان میباشد زیرا حاکمیت شریعت خدا(ج) و بدور افگندن سایر قوانین از واجب ترین واجبات و مهم ترین مقاصد در دین است خداوند می فرمایدترجمه (کسیکه به آنچه خدا نازل فرموده حکم نمیکند پس ایشان کافران اند.) دیگر حاکم گردانیدن شریعت اسلامی وظیفه و وجیبه، همه گانی بوده، در وضع و شرایط کنونی نزدیکترین راه رسیدن به این هدف مقدس تنها و تنها تائید عملی تحریك اسلامی طالبان و در کنار اوشان قرار گرفتن است و بس، زیرا همه جهتها و اطراف دعوی کننده، نظام اسلامی و شرعی نه تنها در عمل نتوانستند که به ادعا های خود جامه، عمل بپوشانند بلکه مرتکب جنایات و مظالم شدند که سد محکم را علیه دعوت اسلامی بمیان آورده و فرسنگها از نظام اسلامی فاصله پیدا کردند و دورنما، آینده، شان هم از این ناحیه روشن نمیباشد، زیرا گفته اند (سال خوب از بهارش پیداست).

ولسوالی سروضه...

ولسوالی به ارتباط موضوع بیانیه های عالمانه و مفید ایراد کردند، در پایان گردهمآئی قطعنامه، از طرف علماء ، بزرگان قوم و اهالی آن ولسوالی صادر گردید که در آن حمایت همه جانبه، خود را از تحریك اسلامی طالبان اعلان داشته و آماده گي خود را برای هرنوع قربانی در راه سرنگونی اداره، مکار ربانی وعده دادند، راپور می افزاید که همچنان در این گرد همآئی ملا محمد ویس آخندزاده به حیث ولسوال و محمد حسن آخندزاده به حیث معاون و مولوی عبدالصبور به حیث قوماندان امنیت آن ولسوالی به مردم معرفی شدند.

طالبان څوك دي؟

ابو احسان

طالبان ددی وطن اصیل بچیان دی، طالبان دخدای(ج) پر ځمکه دخدای(ج) دقانون دحاکمیت پلویان دی، طالبان دظلم، ناروا او ستم دله منځه وړلو سپاهیان دی او طالبان انسان ته دانسان په سترگه د کتلو او انسانیت ته داحترام دساتلو طالبان دی، زمونږ دخواږه وطن دغه بچیان که له یوی خوا دخوارلس کلن جهاد په اوږده موده کی دکفر او کمونیزم د باطلو قوتونو په وړاندی په ډیره میړانه جنگیدلی دی، تو له بلی خوا بی په جومات او مدرسه کی ددین دعلم رڼا ځلانده ساتلی او خپلو دینی زده کړوته یی په ډیره مینه او اخلاص پام لرنه کړی ده، او چی په وطن کی کمونیستی نظام دړی وړی شو، نو طالبان بیاهم په جومات او مدرسه کی په آرام زړه کتاب او قلم ته وزگار شول او په خلاص مټ یی دینی زده کړوته دوام ورکړ، دا ځکه دوی داوه وو چی په وطن کی به د اسلامی عدالت نظام حاکمیت پیدا کوی، ظلم و ستم به دتل لپاره له وطن نه کډه کوی او حق به حقدار ته رسیږی.

خو داسی ونه شول، دمسلمان او مجاهد ملت ارمانونه تر خاورو لاندی شول، دقدرت ساتلو او قدرت نیولو لیونی، دغری پیل شوی، ژبنی، مذهبی او سمتی تعصبونه خپل اوج ته ورسیدل، د جهاد مقدست اهداف په اوبو لاهو شول او مسلمانو وطنوالو سره هغه څه وشول چی دچا په فکر کی هم نه گرځیدل، نو په دغه شان حالاتو کی د افغانستان ټول مسلمان د رڼا یوه ځرك په انتظار و، زمونږ ځوریدلی او دردیدلی ملت په خپلو کنډوالو کی د آرام ژوند لپاره د داسی یوه مثبت حرکت انتظار کاوه چی دهغه په نتیجه کی له دغه وړانوونکی او تباه کوونکی حالت څخه نجات ومومی، ددغه ضرورت او دغه تاریخی مسؤلیت په درك کولو سره طالبان یوځل بیا مجبور شول چه جومات او مدرسه پریږدی، د قلم او کتاب پر ځای توره او ټوپك راواخلی ترڅو په دی توگه دمسلمان او مجاهد ملت دزړه ارمان ترسره کړی.

طالبانو حی علی الفلاح دنجات بخښونکی غږ په پورته کولو سره ملت ته یوځل بیا ساه ورکړه او دمړ ژواندی ملت په رگونو کی یو ځل بیا وینه وچلیده، دهمدغه سپیځلی احساس په رڼا کی د طالبانو نجات بخښونکی بهیر چی هرځای ته ورسید دهغه ځای خلکو ورته لبیك ووایه او په ډیره مینه یی په خپله غیږ کی ځای ورکړ، وسلی او نور امکانات یی د دوی په واك کی ورکړل او پخپله هم په ډیره میړانه ورسره ودریدل چی دادی دهمدغه سپیڅلی احساس په رڼا کی اوس دکابل له دروازو ورننوتلی او دکابل اداره په ډیره محدوده ساحه کی تر گوزارونو لاندی ده.

داچی طالبانو څنگه وکړای شول دډیرو محدودو امکاناتو په درلودلو سره په ډیره لږه موده کی دومره زیات بریالیتوبونه ترلاسه کړی خامخوا له ځینو خلکو سره سوال پیدا کوی، ځینی یو ډول او ځینی بل ډول تبصری کوی، خو څوك چی دخدای(ج) په قرآن ایمان لری او د سورت فیل مبارك سورة یی لوستلی وی بیانو دغه ټول سوالونه او پوښتنی ورته حل کیږی او دغه اسلامی تحریك دخدای(ج) له طرفه دنجات او خلاصون یوه وسیله بولی، خو ددی لپاره چی دځینو کسانو شك او شبهه بیخی له منځه تللی وی نو یو څو ځرگند مثالونه په گوته کوو او هغه داچی طالبانو له ملت سره په وطن کی د امن او استقرار د راوستلو وعده کړي ده، طالبانو اهل ته دکار د ورسپارلو ژمنه کړی ده، طالبانو داسلامی نظام د جوړیدو تکل کړی

نور بیا

ترځو چي په افغانستان کښي بشپړ اسلامي ...

کوټه: د طالبانو داسلامي تحريك د امير مرستيال او دعالي شوري غړي، حاجي ملا محمد رباني د «صداي اسلام» اردو ژبي اونيزي سره په يوه خصوصي مرکه کي ويلي دي: د محمود مستيري له خوا چي تر اوسه څومره فارمولي دافغانستان د قضيي دحل په اړوند وړاندي شوي دي ټولي نيمګړي دي. په تيره بياه دغه اوسني فارموله خو د انصاف او عدل څخه ډيره لري ده. دافغانستان له ديرشو ولايتونو څخه په پنځلسو ولايتونو باندي د طالبانو تسلط دی؛ په داسي حال کي چي مستيري په کميسيون کي دطالبانو څخه دوه تنه نماينده ګان په کي نيولي دي. او نوربي له نور وګوندونو څخه اخستل شوي دي، په دي کي قاطع اکثريت د رباني دګوند څخه نيول شوي دي. حقيقت دادي چي دغه فارموله (دمستيري، رباي او مسعود) تر مينځ په سلا او مشوره سره جوړه شوي ده. چي زموږ دپاره دمنلو وړنه ده.

حتي دغه فارموله دهيڅ ګوند له خوا نه ده منل شوي. ملا محمد رباي وويل: د داسي طرح دپاره اړتياد ده چي دافغانستان دمسئلي د حل دپاره يوه مؤثره لياره را وباسي. خو زما په عقيده د طالبانو داسلامي تحريك څخه پرته څوك د دغي مسئلي حل نشي موندلای.

ملا محمد رباني وويل: په افغانستان کي د ګډوډي ستر عامل د وسلو امبارونه دي، ترڅو چي دغه امبارونه ديوه ملي قيادت په لاس کي نه وي راغلي مشكل نشي حل كيدلای.

د دوستم او ظاهر شاه په اړوند ديوي پوښتني په ځواب کي هغه وويل: طالبان دکوم شخص يا شخصيت سره کار نه لري، بلکي په افغانستان کي د بشپړ اسلامي نظام د تطبيق او دمکمل امن او اداري غوښتونکي دي، او ددي هدف دلاسته راوړلو دپاره به خپلي مبارزي ته دوام ورکوي. له موږ سره کوم خاص شخصيت مطرح نه دي، او نه خوله چاسره دښمني لرو، هر څوك چي افغان وي او درست مسلمان وي او په افغانستان کي واقعي اسلامي نظام په عمل کي پلي کولای شي موږ دهغه مرسته او حمايت کوو. خو چرته به هم داسلام دښمنه عناصرو مرسته و نکړو.

ددي پوښتني په ځواب کي چي آيا روسي بنديان به خوشي کړي؟

ملا محمد رباني وويل: په دي اړوند څمونږ نن هم هغه پخواني دريځ دی ته څو چي موږ ته دزرګونو علماوو، مشايخو او قومي مشرانو په هکله معلومات نه وي راکړي شوي د روس د بنديانو خلاصيدل به يواځي خوب او خيال وي.

هغه وويل چي روسان دي څمونږه بنديان خوشي کړي، که يي شهيدان کړي وي ځاي او نيټه دي راوښيي. چي چرته او په کوم ځای کي يي شهيدان کړي دي ورسره ورسره هغه دوه روسي مشاورين او هغه دوه تنه افغانان چي يويي اسدالله سروري وو باید موږه ته حواله کړي. دا ځکه دغه څلور تنه دعلماوو په وژلو کي ککړ دي. موږ به هغوي محاکمي ته وړاندي کوو او يا به يي دنړي کوم بل عدالت ته را کښ کړو، تر څو دوی په خپله سزاباندي ورسيږي. ملا رباني وويل چي زموږ په زرګونو بنديان ورك دي او دوي داوو تنو بنديانو فكرونه كوي. آيا موږ به دخپلو بنديانو په هکله انديښمن نه يو؟!

ددي سوال په ځواب کي چي آيا په کابل باندي راکټونه طالبان اوروي. محترم حاجي صاحب معاون وويل: څمونږ هدف يواځي فوځي مرکزونه دي. موږ هيڅکله په عامو خلکو باندي ميزايل نه فير کوو. موږ دتل دپاره خپلو ټولو قوماندانانو ته ددي خبري تاکيد کوو چي ملکي ځايونه دي نه ولي.

همدارزار کله چي څموږ طياري بمبارکوي موږ په کلکه سره ورته وايو چي ښاري سيمي به نه بمباروي. بلکي يواځي فوځي مرکزونه بمبار کړي.

حاجي ملا محمدرباني وويل: موږ دغه تحريك ددي دپاره پيل کړي دي چي خلکو ته امن او ارامي دراوړو. او ددوی ژوند وژغورو، نوځکه کيدايشي چي بيا په دوي باندي راکټونه واورو.

دښځو د تعليم په اړوند يوي پوښتني ته په ځواب کي ده وويل: کوم حقوق چي اسلام ښځو ته ورکړي دي هغه به ورته کاملاً ورکوو. علم او زده کړه د دوي حق دي خو په دي هکله به د شرعي قوانينو او اصولو بشپړ مراعات کيږي. په دي هکله موږ د اسلامي تحريك دعالمانو شوري ته ويلي دي، چي ژر تر ژره دي دښځو دپاره د تعليمي نصاب، اصول او ضوابط تيار کړي. کله چي دغه کار پاي ته ورسيده نو انشاء الله د دوی د تعليم او زده کړي کار به هم پيل شي.

ملا محمد رباني وويل: چي موږ د ټولي نړي د اسلامي تحريكونو ملاتړ کوو. موږ د ټولو هيوادونو او اسلامي تحريكونو څخه دا هيله لرو چي د طالبانو داسلامي تحريك بشپړ ملاتړ وکړي څو چي په دي هيوادکي ژر تر ژره امنيت او آرامي راشي او هلته اسلامي نظام پلي كړای شي.

شول، له علماوو سره يي دښمني ته دوام ورکړ، او دغه تش په نوم اقتدار پوري کلك ننښتي دي غواړي چي افغانستان او ټوله نړی وغولوي...؟

غونډه په پای کښي دطالبانو، سپيڅلو مجاهدينو دبري، او دافغانستان او نړي د مسلمانانو دامن او آرامي په دعا سره پای ته ورسيده.

آغاز مهم ماين پاکی...

مصاحبه گفته است كه: از آغاز تيم ماين پاکی تا اکنون شش صد و پانزه هزار متر مربع زمين از ماين ها پاك شده و بتعداد دو هزار ماين های مختلف خنثی شده است.

وی افزود: از آنجائيکه کار اداره هاي ماين پاکی به سرعت تعقيب نميشد لذا شورای عالی تحريك اسلامی طالبان تصميم گرفتند تا كار پاكسازی ماين پاکی را خود آغاز كنند.

وی گفت: طالبانيکه اين پروسه را عمل ميکنند در زمان جنگ ها با روسها تجربه، ماين پاكی را آموخته اند و به آسان از طريق ساده و محفوظ ماين ها را كشف و خنثی ميکنند. در اين عمليات از تانكهاى زره پوش استفاده بعمل ميايد وی افزود: در اين طرز کار پاكسازی برای عمله هيچ نوع خطر پيش نميشود، احياناًزنجير هاى تانك صد متر برداشته كه توسط وركشاپ قول اردوى قندهار ترميم ميشود.

قابل توجه و ياد آوری ميباشد كه: به اساس استندرد قبول شده، اداره، بين المللی برای خنثی كردن يك ماين بشكل مجموعی يعنی مصارف خدماتي، ترانسپورتي، معاشات پرسونل و ... تقريباً سه صد دالر در نظر گرفته شده است.

د سرمقالې پاته برخه

محيط کي تيرکړی دی، په رښتيا چي له دوی څخه يواځي داسلامي شريعت هيله او اميد كيدای شي، هيڅوك له دوی څخه د يو غير اسلامي نظام او مفكوري د لرلو او را مينځ ته كيدلو توقع نشي كولای. ددی د پاره چي دغه تحريك يو سوچه اسلامي او افغاني تحريك دی او اساس يي يواځي الهي نصرت او دافغانستان د مؤمن ملت مرسته او حمايت تشکيلوی هيڅوك نشي كولای چي له دوی څخه دداسي څه توقع ولري چي هغه دی داسلامي شريعت او ګران افغانستان د ګټيو او مفاداتو سره تضاد ولري او يا خلاف وي.

دغه ټول سببونه او علتونه باعث وګرزيدل چي د «شريعت» اونيزه د مطبوعاتو په افق باندي څرګنديږي او د طالبانو داسلامي تحريك دنشراتي ارګان په توګه داسلامي شريعت د ژوند ښونكي پيغام ټول اړخونه د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت ته په خپلو خپرونوكي وړاندی كوی، څو د دوی هغه ارمانونه چي د څوارلس كلن جهاد په اوږدو كي يي دير نيم ميليون شهيدانو د وركولو په بيه له ځان سره درلودل، دعمل او تطبيق په ساحه كي مشاهده كړي.

دشريعت اونيزه به دافغانستان او جهان په هکله د پيښو او قضاياوو په اړوند، په خبرونو او تبصرو برسيره داسلامي شريعت په عقيدوی، عبادتی، اخلاقی، اقتصادی، سياسی او اداری برخو باندی علمی او مستندی ليكني او خپرونی كوی، څو دافغانستان دمسلمان او مجاهد ملت د پاره دلاري مشعل او دنړی والو دپاره دهدايت او لارښوونی سرچينه وګرزي.

د رباني اداره د روسانو ...

دا څرګنده ده چي دکابل اوسني اداره،د پخواني اداری ادامه ده صرف د سرڅوکيری يي بدلي شوي دي، دا اداره د پخوا په شان له روسانو څخه هدايت اخلي او هماغه کورني او بهرني سياست پلي کوی چي دروسانو په خوښه وي،

لکه پخوا به چي دکارمل او نجيب د رژيم لوړ رتبه استازي څه په دائيمي ډول او څه هم په اضطراری ډول د روسيي سره د تودو اړيکو او هداياتو اخستلو په خاطر په کابل او مسکو کي حضور لاره اوس هم دربانی اداره له هماغه سياسته پيروی کوی او خپل دايمي او ګرځنده استازي له روسانو سره په دايمي تماس کي ساتي دهمدي لړی دروستي کړی دکابل د اداري لوړ رتبه استازي ډاکټر عبدالرحمن سفر روسيي ته ؤ. دوی په ظاهره د مطبوعاتو لپاره شايد ځني داسي خبري کړی وی چي ګوندی د ژمني کاليو يا نورو ضروری لوازمو د اخستلو په خاطر يي روسيي ته سفر کړی وی، دا ظاهری خبری دی په باطن کي نوری خبری تر بحث لاندي دی، چي هغه دکابل د اداري دمرګ او ژوند مسأله ده هيواد والوته معلومه ده چي دربانی اداری لپاره روسان دهغه قرار داد په اساس پيسي چاپوی کوم چي دپخوانی کمونستی اداری سره امضاء شوی ؤ، او هم دوسلو د اخستلو مسأله دپخوا په شان دوام لری. اوس له هيچا څخه پټه نه ده چي په کابل کي د ربانی رژيم د روسانو دوسلو او پيسو په زور په دغه نيم ژوانده حالت کي ساتل کيږی تر څو دافغانانو دکړاو اسباب برابر کړی.

دلته غواړو يوی خبری ته دهيواد والو پام وګرځوو او هغه داچي دکابل اوسنی اداره د پخوانی کمونستی اداری په شان د افغانستان له تاريخی دښمنانو سره اړيکي لری، هغه دښمنان چي افغانستان يي په کنډوالو بدل کړی دی او زموږ يو نيم ميليون هيواد وال يي په شهادت رسولي دی، او زموږ د هيواد په کورنيو چاروکی يي پرله پسي مداخلات کړی او کوی يي، د روسيي د مداخلاتو لړی د جعلی پيسو او وسلو په راليږلو سره روانه ده. د بيلګي په توګه د روسي پيلوټانو او طياری سره د دري نيم ميليون مرمی- يرغمال نيولی چي اوس هم د طالبانو د اسلامي تحريك په لاس کي دی او په رسوايي ټوله نړی خبره ده د دی ادعا ډير ښه ثبوت دی.

د ديني طالبانو اسلامي تحريك په داسي حال کي چي دښه ګاونډيتوب په اصولو باور لری او دګاونډيو هيوادونو دوستي په ګډ ژوندانه کي يو دبل په کورنيو چاروکي د لاس نه وهلو په زرين اصل باور لری، ولی روسانوته يادونه کوی چي . افغانستان په کورنيو چاروکي خپله مداخله بنده کړی بلکي په دی فکر شي چي څنګه کولای شي دافغانستان دجګړی تاوان ورکړی، که نه نو روسانو ته خود افغانانو تير تاريخ په ياد دی.

د افغانستان د طالبانو اسلامي تحريك ...

بوازي په افغانستان کښي دظلم او فساد له مينځه وړل او ديو سوچه اسلامي حکومت راوستل دی چي دا په اصل کښي دڅوارلس کلن جهاد ثمره او دمخلصو او مجاهدو افغانانو ارزو پوره کيدل هم کنټرول کيږي.

دغه راز ملايارمحمد يو ځل بيا په دنيا والو غږ وکړ چي دافغانستان په کورنيو چارو کښي مداخله مه کوی کنه دهر قسم بدو عواقبو ذموار به بيا هغه څوك وی چي زموږ په کورنيو چارو کښي مداخله کوی.

هغه زياته کړه موږ له ګاونډيو ملکونو سره د ښو اړيکو جوړول غواړو او که څوك افغانانو ته د دښمني په سترګو کتل کوی بيانو دخدای (ج) په مرسته موږ خپله دفاع په بشپړه توګه کولی شو او دخپلو سرحدونو ساتنه خپله فريضه ګڼو.

دغه شان دهرات والي دغونډی په وړاندی دهرات هغو خلکوته چي بهرته تښتيدلي يوځل بيا عفوه اعلان کړه او وی ويل: هر هغه څوك چي په تيرو کړو توبه اوباسي او په راتلونکی کښي داسلامي تحريك په وړاندی هيڅ ډول ناوړه عمل ونه کړی کولای شی چي خپلو کورونوته راستانه شی او دنورو وطنوالو په څير خپل عادی ژوند ته دوام ورکړی.

غونډه په افغانسان کښي دبشپړ اسلامي نظام دراتلو د امن دټينګښت او دهيواد دبيا ودانی په دوعا پای ته ورسيده.

ولسوالي سرروضه ولايت پکتيکا دوباره فعال گرديد

بتاريخ ۱۳۷٤/۹/۱۲ هـش- يك قافله، تحريك اسلامی طالبان بطرف ولسوالی متذكره جهت بررسی امور اداری در حركت در آمد و مردم مسلمان و مجاهد آن ولسوالی در مسير راه ها و سركها صف بسته بودند از اين قافله، پرشور صلح و امنيت (تحريك اسلامی طالبان) استقبال گرم بعمل آورده و گرد همآئی بزرگ در محوطه، آن ولسوالی تشكيل دادند، اين گرد همآئی به تلاوت چند آية از قرآن كريم آغاز و متعاقباً مولوی صاحب شيرمحمد، مولوی غلام يحيی، مولوی محمد يعقوب و مولوی جانان صاحب و چند تن از معززين آن

صفحهء سوم

يادونه

ښايي ستاسو ايمان به اجازه در نه کړي چي دا ډول سپيڅلي پاڼي په ناوړه ځايونو کښي وغورځوی.

اداره

د کابل اداره بايد قدرت ...

د حرکت انقلاب اسلامي افغانستان امير محترم مولوی صاحب محمد نبي (محمدی) ديوی مرکي په ترځ کي دهيواد حالات ډير خطرناك وبلل او دکابل د اداري په راتسکورولو باندي يي زور واچاو. ده وويل چي دکابل اداره نور دافغانستان دټولو پرګنو، پښتنو، تاجکو، اوزبکو او هزاره وو دپاره دمنلو وړ نه ده، ټول يي په خلاف راپاڅيدلي دي.

محترم مولوی صاحب محمد نبي (محمدی) دهيواد ددغو خطرناكو حالاتو د مختوی او دبحران څخه دراوتلو په هکله دري لاري وړاندی کړی:

لومړی داچي قدرت بايد دطالبانو اسلامي تحريك ته انتقال شي. داځکه چي هغوی داسي مستقل قوت دی چي په چاپوری تړلي نه دي.

او يا دي يوه منل شوی شخص ته انتقال شي چي دټول ملت دپاره دقبول وړ وی. او يا خو دي يو داسي کميسيون ته حواله شي چي د ټولو خواوو په خوښه جوړ شوی وی. بيا به دغه کميسيون په هيواد کي دير کال په موده کي دانتخاباتو زمينه مساعده کړی.

دطالبانو داسلامي تحريك د تاييد • • •

د شريعت خبريال خبر راکوی چي د پنجشنبي په ورځ د ۱۳۷٤ د لمريز هجری کال دليندی په ۲۳ مه نيټه د اضاخيلو په کمپ کښي د طالبانو اسلامي تحريك د تأييد لپاره يوه درنه غونډه جوړه شوی وه چي په هغې کښي په ګڼ شمير سره د مهاجرينو او انصارو علماوو، مخورو او عامو مسلمانانو ګډون کړی وو.

غونډه د قرآن مجيد د څو آيتونو په تلاوت سره پيل او بيا دګډون کوونکو له منځه يوه نامتو او مجاهد عالم مولوی احمدالله صاحب د طالبانو داسلامي تحريك په تاييد کښي ډيره ګټوره وينا وکړه ورپسي بيا مير حسن اغا، محمد رحيم، مولوی تراب الله، حضرت ګل ثاقب، مولوی صاحب نورمحمد ثاقب، محمد مسلم صاحب، مولوی حاجي محمد ثادق صاحب او نورو مخلصو مسلمانانو د طالبانو داسلامي تحريك د تأئيد او ملاتړ په هکله ډيری ګټوری وينا وي وکړی او د رباني شړيدلی او مړ ژوانده اداره يي له دی امله وغندله چي دده بدبخت د تش په نوم اقتدار په موده کښي د بي شميره مسلمانانو ويني و بهيدلی، مالونه يي چور او ناموسونه يي بي پته

د هلمند ولايت کښي په يو تن قاتل د خلکو په وړاندی قصاص جاری شو

له کندهار نه خپريدونکی د (صدای اسلام) اردو ژبي اونيزی ليکلی چي څو ورځي وړاندی يو تن (ښايسته خان د باريداد زوی) چي په ناحقه د يو تن د قتل مرتکب ګرزيدلی و د قتل له ثبوت وروسته د شرعي محکمي د حکم په اساس د خلکو په وړاندی د مقتول د ورثي په لاس قصاص پری جاری شو.

شريعت

د امتياز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامي تحريك

د تأسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

د خپريدلو ځای : د افغانستان جنوبي حوزه د ليکوال هيئت تر کتني لاندي

تليفون : ٤۲٦٤٥

آدرس : په پيښور کښي د طالبانو د اسلامي تحريك نمايندګي

د يوی ګڼي بيه : په هيواد کښي (۳۰۰) افغانی په پاکستان کښي (۲) کلداری

تاجك، اوزبك، تركمن، پښتون، هزاره، بلوچ او نورستاني ټول د ګران افغانستان د مادي جسد غړي، او د اسلام د هغه روح دي